د امیرالکلام میر نظام الدین علي شېر نوايي د زوکړې پنځه سوه
اتیایمې کالیزې د بین المللي علمي – څېړنیز سیمینار په ویاړ



# میر علي شېر نوايي

لیکوال: وي. وي. بارتولد
ژباړن: سید اسماعیل حسیني فاطمي

میر علي شېر نوايي

ژباړن: سید اسماعیل حسیني فاطمي

۱۴۰۰ هـ. ش

ISBN 978-9936-661-25-7

2021

د اميرالکلام مير نظام الدين علي شېر نوايي د زوکړې پنځه سوه اتيايمې
کاليزې د بين المللي علمي – څېړنيز سيمينار په وياړ

**د افغانستان اسلامي جمهوري دولت**

**د علومو اکادمي**

**د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست**

# مير علي شېر نوايي

ليکوال: وي. وي. بارتولد

ژباړن: سيد اسماعيل حسيني فاطمي

۱۴۰۰هـ . ش

## د کتاب ځانګړنې

د کتاب نوم: میر علي شېر نوایي

د کتاب اصلي نوم: د مرکزي آسیا په تاریخ څلور مطالعات

درېیم جلد: میر علي شېر نوایي - د ترکمنانو تاریخ

لیکوال: وي. وي. بارتولد

روسي څخه انګریزي ژبې ته ژباړه: ولادیمیر مینورسکي

انګریزي ژبې څخه پښتو ژبې ته ژباړه: سید اسماعیل حسیني فاطمي

ایډیټ او اهتمام: څېړنوال محمد اصف احمدزی

خپرندوی: د افغانستان د علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

د چاپ کال: ۱۴۰۰هـ. ش / ۲۰۲۱م

د چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

د چاپ ځای: الهام نبي زاده، کابل – افغانستان

ISBN: ۹۷۸-۹۹۳۶-۶۶۱-۲۵-۷


**د چاپ حقوق له علومو اکاډمي سره خوندي دي**

بسم الله الرحمن الرحیم

# ليكلـړ

**عنوان** **مخ**


په لندن کې د افغانستان د تاريخي مطالعاتو د مرکز يادښت .....أ
د ژباړن خبرې........................د
ميرعلي شېر نوايي.......................١
ضمني يادونه..............................٥
ايرانيان او ترکان..........................٦
هرات او د هغه اهميت......................١٠
د مير علي شېر اصلي ځاى او زلميتوب.................٢٠
مير علي شېر او سلطان حسين له لومړي اختلاف دمخه........٤٥
د گوښه کېدو او اغېز کمېدو کلونه.....................٦٥
د مير علي شېر وروستي کلونه (١۴٩۴- ١۵٠١)................٧٩

# په لندن کې د افغانستان د تاریخي مطالعاتو د مرکز یادښت

په لندن کې د افغانستان د تاریخي مطالعاتو مرکز ویاړي چې د خپلو علمي فعالیتونو په لړ کې د نوموتي روسي مؤرخ بارتولد دغه رساله چاپ ته چمتو کوي. بارتولد د مرکزي اسیا په اړه د مطالعاتو یوه مهمه لړۍ لري چې درېیمه برخه یې د سیمې د مهم تاریخي – فرهنګي شخصیت، میر نظام‌الدین علي‌شېر نوایي (۸۴۴ هـ.ق - ۹۰٦ هـ.ق) په اړه ده.

د افغانستان اسلامي جمهوریت پتېیلې ده چې سږ کال د هرات د تیموري دوران د دغه مشهور شخصیت یادغونډه جوړه کړي. امیر علي شېر نوایي د میلادي تقویم پر بنسټ په ۱۴۴۱م زېږېدلی او پر ۱۵۰۱م کې وفات شوی دی، چې په دې حساب یې سږ کال د زوکړې ۵۸۰یمه کالیزه او د مړینې ۵۲۰ تلین دی.

امیرعلي شېر نوایي د تیموري دوران د روښانه پاچا سلطان حسین میرزا په زمانه کې د مهمو دولتي دندو ترڅنګ د خپلې زمانې پیاوړی لیکوال، شاعر، ژبپوه، عارف او انځورګر و. ده په

دواړو (پارسي دري او ترکي چغتايي) ژبو کې شاعري او ليکوالي کړې ده، ځکه خو د ذواللسانين (دوه ژبي) شاعر په توګه د سيمې په ولسونو کې محبوبيت لري. د هرات تيموري واکمنۍ د علمپالنې، ودانۍ، اقتصادي ودې، هنر ته پاملرنې او فرهنګي برياوو له امله د ختيځ د رنسانس دوره ګڼل کيږي او تاريخي اسناد ښيي چې د ګڼو دغو هڅو او برياوو تر شا د امير علي شېر نوايي لاس و.

د منځنۍ اسيا په اړه د روسي پوهاند بارتولد د څېړنو يوه مهمه برخه د دغه شخصيت هڅو او زمانې ته ځانګړې شوې ده، چې وروسته بيا ولاديمير مينورسکي انګريزي ته ژباړلې ده.

موږ د دغې رسالې تاريخي – فرهنګي اهميت ته په پام غوره وګڼله، چې همدا برخه يې د امير علي شېر نوايي د کاليزې په مناسبت جوړېدونکي سيمينار په وياړ پښتو ته را وژباړو، ځکه خو مو له ښاغلي سيد اسماعيل حسيني فاطمي څخه وغوښتل، چې را پښتو يې کړي. ځای يې دی چې د ښاغلي فاطمي له زيار او هڅې مننه وکړو، همدا راز د افغانستان د اسلامي جمهوريت د علومو اکاډمۍ له لوی رياست څخه هم مننه چې د دغه اثر د خپراوي ژمنه يې کړې ده.

په لندن کې د افغانستان د تاريخي مطالعاتو مرکز چې د ۲۰۱۹ کال د مې مياشتې په۳مه نېټه په لندن کې پرانيستل شو، د خپلې بدايې او خورا معتبرې علمي – تاريخي زېرمې څخه د

ګران افغانستان او سيمې په اړه د نورو مهمو تاريخي پاڼکو او اسنادو په خوندي ساتنه، ژباړه او چاپ و خپراوي بوخت دی، چې ان شاءالله، ژر به خپلو درنو هېوادوالو، فرهنګيانو او د تاريخ و پوهنې مينه والو ته نور داسې اثار هم وړاندې کړي.

زه د دغه لنډ يادښت په پای کرښو کې يو ځل بيا له ټولو هغو همکارانو څخه مننه کوم، چې د دې کتاب په ژباړه، چمتوکولو او چاپ و خپراوي کې يې زيار ايستلی دی.

درنښت

دکتور وارث وزيري

په لندن کې د افغانستان د تاريخي مطالعاتو د مرکز مشر

د ۲۰۲۱ م کال د اپريل درېيمه

# د ژباړن خبرې

د بارتولد د څلورو مطالعاتو د هغې مقالې د انګریزي ژباړې له خپرېدو سره چې د میرعلي شېر په هکله ده، په دې اړه شوې ژمنه سرته ورسېده. مګر د دې مقالې د لومړۍ موضوع له خپریدو وروسته چې د ترکمنستان او سیمیرچې یو لنډ تاریخ او همدارنګه په دویمه موضوع کې الوغ بیګ ته ځای ورکړل شوی دی، دا په دې خاطر چې د میرعلي شېر مقاله په جلا توګه د یوه کتاب په شکل د خپرېدو لپاره یو څه لنډه وه، نو په همدې منظور پرېکړه وشوه چې دا موضوع د بارتولد د پراخو مطالعاتو د میراث له نورو برخو سره بشپړه شي.

د ترکمنانو د تاریخ هغه عنوان چې ژباړونکو د همدې مقصد لپاره غوره کړی دی، کېدای شي د پنځمې مقالې په توګه انتخاب شوې وي، بلکې په دې خاطر چې زموږ د دغې سلسلې عنوان ګډوډ نه کړي، د ضمیمې په توګه ور زیات شوی دی.

دا مقاله، بارتولد د خپل ژوند په سختو شرایطو کې لیکلې وه، دا هغه وخت ؤ چې نوموړي خپله مېرمن له لاسه ورکړه او په خپله یې ښه روغتیایي حالت نه درلود. د دې لپاره چې د مرکزي آسیا د

نويو ملتونو د تاريخ په اړه د هغوی غوښتنو ته د قناعت وړ ځواب ووايي، نوموړي بايد له پخوا څخه هم زيات کار کړی وای (نوموړي دا خبره په يو شخصي ليک کې کړې ده). د ترکستان دغه تاريخپوه د خپل معمول بري په اساس له پراخو منابعو داسې ډېر حقايق لاسته راوړي چې په راتلونکي کې به د هرې څېړنې پيلامه وي.

د اوسنۍ موضوع په توګه، دا اساسي مقاله چې د ميرعلي شېر د څلورسومې زوکړې په ياد را منځته شوې ده، د ايران او ترکيې د هېوادونو په کلتور کې يې په دې اړه ډېرې خپرونې توليد کړې دي. که د دغو خپرو شوو مطالبو نوملړ را ټول کړو، نو په يوه مقاله کې به خلاصه نه شي، بلکې په يقين سره ويلی شو چې د بارتولد مقاله لکه د نوح(ع) بېړۍ په يو ستر سمندر کې لا تراوسه هم لامبو وهي.